ملا اسدالله (حنیفی)

دا جګ غرونه ګړنګونه
:ا مرچل دا مرچلونه
له پامیر نه را جګ شوي
دا څپاند څپاند سیندونه
له امو نه تر هلمنده
دا فراخ فراخ ډاګونه
له واخانه تر میونده
دا خاورین خاورین کورونه
له شیر خانه تر بولدکه
چي میشته دي ولسونه
له کوکچي تر هري روده
دا تپاند تپاند موجونه
دا به نن سبا آباد شي
را لنډ شوي منزلونه
د کمون جرړي شوي وچي
خو ګیدلي دي میږونه
د سبا سترګه خلي
رڼا شوي تور تمونه
روستني منزل ته وروره
رسیده دي کاروانونه
د الحاد خونه شوه ورانه
نړیدلي یي برجونه
دا برګشت د زماني ده
نور پوره دي تاریخونه
د وحشت کوډي شوه ګلوه
بیا یي نه راځي دورونه
نور به عدل الهي وي
ښکته پورته په ملکونه
نه به ظلم نه وحشت وي
نه شکیلاك نه تاړاکونه
نه به زور وي نه زیاتي وي
نه یرغل او نه بریدونه
ټول قانون به د قرآن وي
متحد به وي قامونه

امام غزالی و مسئله امارت در اسلام

سمیو (سنان)

امام محمد غزالي یکي از بزرگترین فقهاي جهان اسلام است و بخاطر تبحر وي در بخش هاي مختلف از علوم شرعي وي را حجـة الاسلام لقب داده اند. تصنیف بی مانند وي احیا العلوم الدین یکي از معتبر ترین مراجع براي اهل تحقیق براي دریافت رموز و دقایق علوم مختلف دیني است . در رابطه با ولایت کردن و حکمراندن نیز امام غزالي نظر خود را چنان بر بنیان استوار شریعت بر پاداشته که پس از گذشت قرنها هنوز هم تازه و بکر است او دو نوع حکومت را در روي زمین از هم متمایز مي سازد، ۱ - امارت مبتني بر عدل ۲ - امارت جور و ظلم .

امیر عادل خلیفه خداوند «ج» بر زمین است و انحراف امیر و یا حاکم از مسیر عدل را خلافت ابلیس مي خواند . امام به این نظر ست که اگر امیر در منصب امارت به این مسئله ایمان داشته باشد که دنیا منزلگه وي است نه قرارگاه وي، در آنصورت چنین امیر هرگز بر طریق ظلم وجور نخواهد رفت . نکته دیگر که امام غزالي آنرا براي یك امیر مسلمانان در قدم اول اهمیت قرار میدهد اینست که حاکم مسلمان از مال دنیا همانقدر طلب کند که به آن ضرورت دارد . آنچه که بیش از حد ضرورت طلب کند براي وي زهر قاتل است . امام میگوید که جان کندن امیري که مال بیش از حد ضرورت جمع آورد دشوار و سخت است حتي اگر این مال حلال باشد. پس از اینجا میتوان قیاس نمود حال والي یا امیري را که مال حرام گرد آورد و یا در بیت المال تصرف نا جایز و نا مشروع نماید . امام غزالي درین برداشت خویش برسیرت پیامبر «ص» و روش خلفاي راشدین نظر دارد، پیامبري که در مقام رهبري خویش، براي مبارزه با گرسنگي سنگ بر شکم مبارك مي بندد و خلفاي که بزرگترین امپراتوري هاي عصر خود را فتح کردند.. اما از مال دنیا حتي آنقدر بخود اختصاص ندادند که در هنگام مرگ جنازه شانرا با پارچه ئي بصورت کامل بپوشانند .

درین رابطه ذکر یك نکته لازم است که در پیش گرفتن راه قناعت براي رهبران یا امراي مسلمان هرگز به این معني نیست که جامعه از تحرك در جهت تأمین معیشت و پیشرفت اقتصادي و رفاه بازماند اما اینکه امیر مسلمان باید راه فقر و قناعت در پیش گیرد بخاطر اینست که اگر او چنین نکند عدالت در جامعه تحقق نخواهد یافت و عدل اساس و بنیاد امارت در اسلام است .

از نظر خداوند«ج» عبادتي بزرگتر و مقبول تر از ولایت توأم با عدل نیست و پیامبر«ص» به این معني مي فرماید که یکروز عدل سلطان عادل فاضلتر از عبادت شصت ساله بر دوام است و نیز فرموده اند که دوست ترین و نزدیکترین شخص به حق تعالي امام عادل است و دشمن ترین معذب ترین امام جابر. و نیز فرموده اند که قسم به خداوند «ج» که نفس محمد «ص» در ید قدرت اوست که هر روز ثواب عمل والي عادل را آنقدر اضافه سازند که برابر به عمل جمله رعیت وي باشد و هر نماز که وي بر پا میدارد، با هفتاد هزار نماز برابر آید .

امام غزالي به استناد به احادیث پیامبر«ص» میگوید : پس بهترین نعمت خداوند مقام امارت است اگر بر طریق عدل باشد. چه نعمتي از این بزرگتر که یك ساعت عبادت امیر با یك عمر عبادت دیگران برابر باشد ؟ امام اصول ذیل را براي امیر مسلمان در امارت لازمي میداند :

۱ - در هر امري آنچه را که بر خود نمي پسندد بر دیگران نیز روا ندارد .

۲ - کساني را که غرض اجراي امور و یا داد خواهي نزد وي مراجع مي کنند بي موجب منتظر نگذارن و از این خطر باید به سختي حذر کند و تا حاجت و نیاز مسلماني را که به وي مراجع نموده بر آورده نساخته به هیچ عبادت نافله مشغول نشود زیرا رفع مشکل مسلمانان از همه نوافل فاضلتر است .

۳ - در زنده گي قناعت پیشه کند یعني طعام خوش نخورد و جامه نیکو و فاخر نپوشد زیرا بدون قناعت عدل ممکن نیست و امام غزالي درین رابطه به اعمال سلف صالح استناد مي کند عمر «رض» از سلمان پرسید که از احوال من چه شنیدي که در نظرت قابل انتقاد آمد ! سلمان «رض» گفت : شنیدم که یکروز بر سفره تو دو نوع غذا وجود داشت و نیز اینکه دو پیراهن داري که یکي را در روز بر تن مي کني و دیگري را در شب عمر «رض» پرسید آیا غیر از این چیز دیگري شنیده ئی سلمان گفت نه و عمر «رض» با اطمینان خاطر گفت : آنچه را هم که شنیده ئي درست نیست .

٤ - با رعیت به نرمي رفتار کند نه با خشونت . پیامبر «ص» دعا نمود که بار الها ! با امیري که با رعیت رفق مي کند رفق کن با آنکه غضب مي کند در قیامت غضب کن .

٥ - سعي نماید که همه رعیت از وي خوشنود باشند و امام غزالي درین مورد به حدیث استناد مي کند که بهترین ائمه آنهائی اند که شما آها را دوست دارید و آنها شما را دوست دارند و بدترین آنانند که شما را دشمن دارند و شما ایاشن را دشمن دارید و ایشان شما را لعنت کنند و شما آنها را لعنت کنید .

امام مي فرماید که امیر یا والي نباید به حرف چاپلوسان اعتماد نماید و گمان کند که همه مردم از وي راضي اند بلکه باید کساني را مامور سازد تا حقیقت وضع مردم را به وي گزارش دهند زیرا عیب خود را از زبان مردم باید دریابد و خود را اصلاح نماید .

٦ - در صدد جلب رضاي هیچکس به قیمت زیر پا نهادن شریعت بر نیاید و اگر کساني از وي به این جهت ناراض گردند که او شریعت را تطبیق مي نماید به آن توجه نکند و از عمر «رض» نقل مي کند که فرمود : سخت جاهل بود کسیکه براي رضاي خلق از رضاي حق تعالي بگذرد .

۷ - اهمیت و خطر مقام خود را بداند و از آن دمي غافل نباشد از ابن عباس «رض» نقل است که فرمود : رسول «ص» را دیدم که حلق خانه کعبه را درحال در دست گرفتند که جمعي از قریش نیز حاضر بودند پیامبر«ص» فرمود : ائمه و سلاطین از قریش باشند تا زمانیکه سه کار را به جا آورند : چون از ایشان رحمت خواهند رحمت کنند و چون حکم خواهند عدل کنند و آنچه بگویند بکنند (یعني قول و عمل شان یکي باشد) و هر که چنین نکند لعنت خدایتعالي و فرشتگان و جمله خلق بروي باد و حق تعالي از وي نه فریضه پذیرد و نه سنت . و نیز فرموده اند هر که میان دو کس حکم کند و ظلم کند لعنت خدا بر ظالمان باد و نیز فرمود دو کس از امت من از شفاعت من محروم باشند سلطان ظالم و مبتدع که این غلو کند . رسول «ص» فرمود که در روز قیامت امرا را در حضور خداوند «ج» حاضر مي کنند و از آنان سوال مي کنند که شما شبانان گوسفندان من بودید و اختیار آن مردم با شما بود پس چرا کسي را بیش از آنچه که من حکم کرده بودم حد زدید و عقوبت کردید ؟ گویند خدایا! از خشم آنکه خلاف حکم تو عمل کردند . فرماید : چرا باید خشم شما از خشم من بیشتر بود ؟ دیگري را پرسد که چرا حد و عقوبت کمتر از آن کردید که من فرموده بودم ؟ گوید بار خدایا من بر وي رحم کردم . پرسد : چرا رحم تو از من بیشتر باشد ؟ پس هر دو گروه را به دوزخ برند و گوشه هاي دوزخ را با آنها پر سازند .

×××

هر چند امام غزالي حکومت فاقد عدالت را عدول صریح از مسیر اسلام دانسته و آنرا رد مي نماید اما اگر بخواهیم در آراي وي پاسخ به این سوال را دریابیم که آیا از نظرات فقیه بزرگ شافعي قیام در برابر امام جابر در چه شرایطي لازم است او به صراحت چیزي نمي گوید اما اینکه وي حکومت فاقد عدل را (حکومت ابلیس) مي خواند تلویحاً اشاره به مشروع بودن قیام بخاطر جانشین ساختن عدل بر ظلم است و درین مورد نظر وي با نظر احناف مطابقت دارد . یکي از پیشوایان معروف مذهب حنفي(ابوبکر جصاص) در احکام القرآن با وضاحت مي نویسد : جایز نیست که شخص ظالمي پیامبر باشد یا خلیفه پیامبر یا قاضي یا عهده داریکه پذیرفتن امرش در امور دین بر مردم لازم آید مثلاً مفتي یا شاهد یا راوي حدیث پیامبر«ص» .در آیه ۱۲٤ سورهٔ بقره (لا ینال عهدي الظالمین) (ترسد وحي من به ظالمـان) دال بر این ادعاست که اشخاصیکه در امور دین به مقام زعامت مي رسند صالح بودن شان شرط حتمي است ... از آیه ثابت است که امامت شخص فاسق و فاسد باطل است .

لقماني نصیحتونه

قاضي محمد حسن (حقیار)

د بشریت ستر لارښود کتاب (قران عظیم الشان) کي د لقمان سورت په یو لړ نصایحو او پندونو مشتمل دي چي هر نصیحت یې په خپله هر اړخیزه او شامله معني یو لوی باب تشکیلوي چي عمل کوونکو ته یې د دنیا او اخرت د بریالیتوبونو او ډاډ تضمین کوي نو ددي لپاره چي گـته تري واخلو په لنډ ډول یې یادوو.

۱ - الله «ج» لقمان ته فرمایي چي زما شکر ادا کړه (زما حق ومنه) ځکه چي څوك شکر کوي نو د خپلو شخصي گټو لپاره یې کوي چي په دي سره په دنیا او اخرت کي نعمت ډېر ثبت مومي. په دنیا کي پوهه او مادي نعمت ورسره ډېر سري او الله خپل شاکر بنده ته د نیك عمل توفیق ورکوي او په اخرت کي ورته نیك عوضونه ورکوي او که څوك ناشکري کوي نو الله «ج» د چا ثنا او حمد ته محتاج ندي هغه بي نیازه او صمد ذات دي.

۲ - د لقمان د حکمت لمړني خبره خپل زوي ته دا وه چي الله «ج» د ټول عالم او کائناتو پیداکوونکي او حقیقي څښتن ومنه هیڅوك ورسره مه شریکوه په دي کلك یقین او باور ولره چي پالونکي ددي ټولو مخلوقاتو همدا یو ذات دي، ټول روزي خوړونکو ته روزي همدا ذات ورکوي، همدا یې پیدا کوي او همدا یې فنا کوي دده په کار او اراده کي بل چاته د ذرې په اندازه اختیار هم نشته. عبادت هم یواځې همده ته کوه بل چاته دي سر نه ټیټ نه شي ځکه چي له شرك نه لوی ظــلم (لویه گنــاه) بله نشته ده .

۳ - د مور او پلار اطاعت او خدمت کوئي ځکه چي هغوي ستاسي لپاره ډېري ستونزي زغملي دي ستاسي د ژوند دا رامي او سوکالي لپاره یې ډېري هلي ځلي کړیدي. په ځـانگړي ډول مور ځکه چي هغې نهه میاشتي په گېډه گرځولي یې او ستا له کبله د هغې بدن کمزوری شو، بیا یې نه وسالي ستا ډول ډول خدمتونه یې وکړل ناته یې نی درکي نو ته یې هم په صداقت خدمت وکړه .

٤ - د مور او پلار اطاعت فرض دي، او الله«ج» د مور او پلار په اطاعت، منني او شکر یې لوي تاکید کړیدي او د خپل اطاعت سره جوخت یې د دوي په اطاعت هم امر کړیدي مگر ددي سر بېره بیا هم د حکم الهي خلاف د هیچا منته او اطاعت روا ندي، او د خالق په معصیت کي د مخلوق اطاعت نشته یعني د مور او پلار نا حقه خبره مه منه ، بیا هم په دنیوي چارو کي ورسره مرسته کوي مثلاً خرڅ، خوراك ، بدني خدمت او داسي نوري مالي اړتیا وي یې پوره کـړي، خـو کـه خـداي نا خواسته په باطل عمل درته امر کوي نو بیا د خداي اطاعت په دوی ډېر مقدم دي

٥ - په ځمکه او اسمان (او ددي دننه چه څه دي) ددي په یوه یوه ذره هم د الله«ج» علم محیط اووسیع دي او قدرت یې پري حاصل دي. دده د علم له دایري څخه وتلي نه شي او د الله«ج» د علم په هر شي محیط کیدل پخپله د اسلام پنسهیزه عقیده ده .

٦ - واجب او نیك کارونه خو ډېر دي مگر په دوي کي د ټولو لوي او مهم فرض لمونځ دي ځکه یې په فرضو او نورونیکو کـارونوکي د لمانځه په یاد بسواه (اکتفا) وکړه. لمونځ د نورو اعمالو د درستي ذریعه هم ده لمونځ، لمونځ کوونکي له بدو او ناوړو کارونو څخه هم سـاتي، د لمانځـه د اقامت مطلب د لمانځـه ټول ارکـان او اداب پوره کول، په لمانځه همیشه والي او د وختونو پابندي، ده .

۷ - د اسلام مقدس دین یو ټولنیز دین دي د فـرد د اصـلاح تر څنگ د ټولني اصلاح ددي نظام مهمه برخه ده ځکه یې د لمانځه په څېر مهمي فریضي سره د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د فریضي یادونه هم وکړه یعني د ځان اصـلاح او د ټولني اصـلاح دوه اهمي فریضي او د اسلام اساسات دي. او دیته یې هم اشاره وکړه چي طبیعي ده په دي کارونوکي به له ستونزو او کړاوونو سره مخ کیږي خلك به دي مخالفت کوي حتي مقابلي ته به دي راوځي نو ته د صبر او استقامت څخه کار واخله له خپل هوډ نه مه اوړه او همدا د همت لاره هم ده .

۸ - د ټولنیــز ژوند اداب او یې اجتماع کي د بر خورد صحیح لاري زده کړه کله که له چا سره غږیدي نو خپل اواز ډېر مه لوړوه او مه یې ډېر سکته کوه چي اوریدونکي په تکلیف شي په متوسط ډول غږیږه له اړتیا پرته ډېر مه غږیږه، شور مه کوه . کله چي په لار ځې مه ډېر چالاك رفتار کوه چي خلك دریاندي د لیوني گمان وکړي او مه ډېر ورو ځه ځکه چي همدا ډول د متکبرینو خوي هم دي په خپل تگ کي منځني چال خپل کړه تیز تلل او منډي وهل د انساني وقار منافي عمل دي او ډېر ورو تلل بیا د تاروغ عمل دي او بیا د متکبرینو او خداي«ج» متکبرین او بی ځایه فخر کوونکي نه خوښوي .

هفته نامه شریعت توجه ارگانهای محترم دولتي را مبذول میدارد

رسول الله ﷺ فرمود: (الدين النصيحة ...)

دین عبارت از نصیحت وخیر اندیشي است. گفتند: براي چه کسي؟ فرمود: براي خدا وبراي کتابش وبراي رسولش وبراي رهبران مسلمان ها وبراي همه مسلمین «روایت از مسلم»

در این شماره «شریعت» توجه ارگان هاي محترم امنیتي و پولیس کشور را جلب مینماید

طوریکه نصرت الهي «ج» نیرو هاي بیدار اردوي دولت اسلامي ما را توفیق پیروزي هاي قاطع و حیران کن علیه ملیشه ها و عناصر شر و فساد ارزاني فرمود و نیرو هاي بي فرهنگ شر و فساد در حالت انهزام قطعي و حتمي «انشاء الله» قرار دارند . همچنان نیرو هاي مخلص و مجاهد پولیس و پرسونل امنیتي کشور به معاونت خداوندي در راه تأمین امنیت و کشف توطئه هاي خطرناك و تراژیدي آفرین مخالفین نظم و آرامي مردم ما موفقیتهاي تاریخي ئی را نصیب گردیده اند «الحمدلله» که یقیناً قابل تحسین و تمجید بزرگ بوده خداوند خیر از پیش کرده بیش براي نیرو هاي امنیتي و پولیس کشور ما مزید توفیق عنایت فرماید .

البته هر کار و پروسه که از نگاه زماني و مکاني و از حیثیت مسلك و تجربه نو بنیاد و جدید باشد طبعاً نواقص و کمي هاي میداشته باشد که رفته رفته به رشد و کمال مطلوب خویش اگر مسیر خویش را اصولي و معقول طي کند میرسد . کار کردگي و عملیات نیرو هاي عزیز و گرامي پولیس و امنیتي کشور ما نیز از چنین کمي ها و کاسته گي ها مستثني نبوده البته مشکلات و نواقص فني و عدم وجود وسایل لازم تخنیکي و مسلکي و ندرتاً وجود عناصر شر و فساد به لباس طالب و مجاهد در صفوف نیرو هاي امنیتي و پولیس کشور و ریشه هاي خشك نا شده دستگاه وسیع و عریض خاد جهنمي وقت کمونستها که انشاء الله در حال احتضار قرار دارند احیاناً باعث تکلیف بیجا و بي مورد بعضي اشخاص نیك و فامیل ها ممکن بگردند که قابل توجه جدي مقامات امنیتي کشور ما میباشد ، اگر خداي نخواسته به این کمي ها و نواقص توجه صورت نگیرد به دامن سفید تحریك عظیم اسلامي طالبان لکه هائی چسپ زده خواهد شد که رفته رفته اعتماد و باور ملت عزیز و مجاهد ما را که مخلصانه در طول قرنها در همه مراحل صعب و ناگوار و گورا کشور به جامعه علما و روحانیت داشتند خداي ناخواسته خدشه دار خواهد کرد و فاصله بي میان ملت و جامعه روحانیت ایجاد خواهد نمود که این یگانه خواست دشمنان اسلام و وطن ما در طول تاریخ بوده و میباشد که جبیره و احیاي مجدد آن اعتماد ذات البیني خیلي دشوار خواهد بود . لذا به نیرو هاي پولیس و امنیتي کشور لازم بوده که به حفاظت صفوف خویش نهایت متوجه بوده که مفسدین در آن نفوذ نکنند و در حصه قبول هر خبر و راپور به این اصل قرآني که میفرماید «ان جاءکم فاسق بنبإٍ ...» توجه جدي داشته قبل از تبعین و معلوم کردن ابتدائي صدق و کذب خبر و راپور به تلاشي منازل و توقیف افراد دست نزنند و در صورت ایجاب کردن توقیف از شدت و جبر زیاد و غیر معقول و شرعي کار نگیرند که این کار از یك طرف شرعي نخواهد بود و از طرف دیگر باعث تخلف از توصیه هاي عالمانه رهبر عالیقدر انقلاب اسلامي جناب امیر المؤمنین میباشد و خداي نخواسته باعث فرار و هجرت افراد و پرسونل مخلص ، متدین و کار فهم میگردد که ضایعه جبران ناپذیري براي کشور ما میباشد «و ما علینا الاالبلاغ»

یك قوماندان حکمتیار در ولایت پکتیکا با دو صد تن از افراد و سلاحهاي خویش به صفوف اردوي اسلامي پیوست

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : قوماندان یار خان از حزب اسلامي حکمتیار با بیش از دو صد تن از افراد و سلاحهاي دست داشته خویش در ولسوالي برمل ولایت پکتیکا به صف اردوي اسلامي یکجا گردیده و بخاطر دفاع از منافع علیاي کشور و تطبیق شریعت غراي محمدي تحت قیادت دولت اسلامي افغانستان ابراز آماده گي نمود .

اسلام انسان را ...

تعین نموده ایم و این مسیر البته مسیر اسلام و شریعت محمدي است بر نگرداند و تهدید و ارعاب بیمورد قوتهاي طاغوتي و کفري و سازمان دست نگرشان (ملل متحد) در تحدید و یا قطع امداد هاي مالي و اقتصادي نا چیز بر ملت کفر شکن و مسلمان ما با این ایمان و باور که : «در زمین و ... ي زمین جنبنده نیست که رزق و روزیش بر خدا نباشد » موثر نیفتد و توفیق تام و کاملي را تطبیق علم شرعي با عمل شرعي که ضرورت مبرم تهذیب عالي انساني در جامعه و سرزمین مسلمان ما است رفیق راه ما گرداند .

امین یا رب العالمین

روژه یا د رحمتونو او امیدونو ...

او روحي روزني په خاطر فرض شوي ده چي په حقیقت کښي د یوي تربیوي او عسکري مدرسي حیثیت لري یدي معني چي د سهار نه تر ماښام پوري د خوړلو او څکلو نه منع کیدل او بیا ماښام د روژه ماتي نه وروسته د ښېي مړولونه په غیر فوراً د ماښام لمانځه لپاره تیاریدل او وروسته بیا د تراویحو لپاره ځان عیاروول په همدي ترتیب د لږ شان استراحت او خوب نه وروسته د پیشمني لپاره پاڅیدل، چي دا ټوله پروسه په حقیقت کښي یو ډول فوځي تطبیقات دي چي سړي د مشکلاتو او کړاونو په وړاندي مقابلي ته تیاروي .

دا چي د روژي په مبارکه میاشت کي د بشریت د مرضونو د دوا او علاج نادره نسخه قرآنکریم نازل شوي او په همدي میاشت کښي د قدر برکتناکه شپه هم راځي نو ځکه ورته د رحمتونو میاشت ویل کیږي او کله چي سړي د روژي د غوښتني سره سم د خداي د رضا او ځان د اصلاح لپاره روژه نیسي نو سیي خبره ده چي گناهونه ئي ورته بخښل کیږي ځکه خو د مغفرت د میاشت په نوم هم یادیږي ، او دا چي د رحمت او مغفرت نه وروسته د اورځخه د ازادي مرحله ده نو په همدي وجه د امیدونو میاشت هم ورته وایي .

امام غزالي په خپل مشهور کتاب احیاء علوم الدین کي د روژي سري او باطني شرطونو ته په اشاري سره روژه په دري ډوله تقسیم کړي :

اول : عمومي روژه چي د خوراك څښاك او جماع ځخه د ځان ساتلو په معني ده چي دیته د عوامو روژه هم وایي

دوهم : خصوصي روژه چي د خوراك او څښاك سر بیره د سترگو او غوږونو په شمول د ټولو اندامونو د حفاظت او ساتلو په معني ده چي دي ډول روژي ته د نیکانو او صالحانو روژه وایي.

دریم خاص الخاص روژه : چي د عمومي او خصوصي روژي د مواصفاتو درلودلو سره سره د دنیاوي افکارو، تصوراتو او خیالاتو ځخه د زړه د ساتني په معني ده چي دي ډول روژي ته د انبیاؤ او پیغمبرانو روژه وایي چي د خداي نه په غیر په نور شیانو کي فکر کول د روژي د صحت منافي ده . امام غزالي بیا د دوهم ډول روژي په اړوند شپږ نور شرطونه په لاندي ډول بیانوي : ۱ - د محرماتو د لیدلو ځخه د سترگو ساتل ۲ - د چهیاتو غیبت او دروغو ځخه د ژبي ساتل ۳ - د تجسس او بي ځایه غوږنیولو ځخه د غوږونو ساتل ٤ - د منکراتو ځخه د لاسونو او پښو په شمول د ټولو غړو ساتل ٥ - د زیات خوراك څښاك او خوب ځخه ډډه کول ٦ - د افطار نه وروسته د خوف او رجا یعني ویري او امید کیفیت په ځان کښي راوستل .

حضرت ابوهریره د پیغمبر علیه السلام ځخه د یو قدسي حدیث روایت کوي چي الله تعالي فرمایي :

د بني آدم هر عمل خپل دي خو روژه بي ځما لپاره ده او همدا زه بي اجر اوثواب ورکوم .

دلته سړي سره دا سوال پیدا کیږي چي روژه ولي خاص شوه آیا دا نور عبادات د خداي لپاره نه دي؟

حضرت امام نووي د نوموړي اشکال د حل په هکله داسي وضاحت کوي :

۱ - یوازي روژه د خداي نه په غیر د بل هیچا لپاره د بشر په تاریخ کښي نده نیول شوي - یعني په بشري تاریخ کښي د خداي نه په غیر د انسانانو لپاره روژه نده نیول شوي .

۲ - روژه ځکه خاص کړاي شوه چي د ریا ځخه یو پاك عبادت دي .

۳ - په روژه کښي د روژه لرونکي د نفس او هوس لپاره ځه نشته

۳ - په روژي سره انسان کي الهي صفات چي د خوراك ځخه استغناء ده راښځ ته کیږي .

٥ - دا هغه ځانگړي عبادت دي چي د ثواب اندازه بي یوازي خداي ته ښه او بس

٦ - او یا دا چي روژه د تعظیم په منظور خداي ځانته منسوب کړي

لوی خداي «ج» دي د روژي په برکت ځمونږ ټول اعمال اصلاح کړي

د زابل ولایت مرستیال محترم مولوی اسد الله (حقاني) له ...

نورو ولایاتو په اتهول ډیر وران شویدي د اسلامي تحریك تر بریالیتوب وروسته په دي خاطر چي ولایت وران وو د ولایت کارکونکي د ښووني او روزني د ریاست په ودانۍ کي کار کاوه خو موږ الحمدلله د مشرانو د توجه او خپلو هلو ځلو او اخلاص په نتیجه کي په ځلورو میاشتو کي ډیر کار وکړ ځني ودانۍ مو له اساسي ترمیم وروسته فعال کړي او د اوبو او برښنا د ریاست د ودانۍ په شمول مو ځني نوي ابادي کړي الحمدلله د ولایت او ټولو ولسوالیو اداري چاري په منظم ډول رواني دي او په دي اړه هیڅ مشکل نه محسوسیږي .

پوښتنه : د ښووني او روزني سیستم مو څه ډول دي ؟

ځواب : ځرنگه چي د زابل په ولایت کي ټولي چاري په تیپه ولاړي وي نو د ښووني او روزني په هکله هم چا قدم نه وو پورته کړي، موږ کولي شول چي په لږ وخت کي ډیري مدرسي او ښوونځي فعال کړو چي له هغي جملي نه یوه لویه لیلیه دیني مدرسه په مرکز کي ده چي د ۱٥ تنو جیدو علماء و تر نظر لاندي له سلونه زیات شاگردان په کي په زده کړه بوخت دي او اعاشه، اباته او د ژوند نور ضروري لوازم یي د حکومت په غاړه دي . همدا راز د مرکز په شمول هره ولسوالي کي له لسونه زیات لیلیه او نهاري مدرسي او ښوونځي فعال دي . اوس مو په مرکز کي د یو باب ښوونځي د ودانۍ تیره د هلکانو لپاره او د یو باب ښوونځي د ودانۍ تیره د ورو نجونو لپاره ایښي ده چي کار یري ژوان دي

پوښتنه : د روغتیایي ستونزو په هکله لنډ معلومات راکړي :

ځواب : د زابل ولایت اوسیدونکي په دي اړه له ډیرو ستونزو سره مخ و یو اویل ولایت ته به بي ناروغان د علاج لپاره وروستل خو الحمد لله اوس مو یو لوي روغتون چي د سلو ناروغانو د بستر گنجایش لري او په هر ډول طبي وسایلو مجهز ده فعال کړیدي همدا اوس ۲۱ تنه تکړه ډاکتران په کي په پوره اخلاص د هیواد والو خدمت کوي .

په هري ولسوالي کي مو یو کلنیک فعال کړیدي چي د تړه‌ي سیمو خلك خپل مشکل هملته رفع کړي د دوا او درملو یو څه ستونزي شته امید دي چي خداي به هغه هم حل کړي .

پوښتنه: د اوبو او برښنا او تیلفون مشکل مو تر کو مه حده حل دي ؟

ځواب : د زابل په مرکز کي یو لوي کاریز چي پخوا ټولو ښاریانو له همدي کاریز نه استفاده کوله او له ډیره وخته را پدیخوا له کاره لویدلي و د ۸۰ میلیونو افغانیو په لگښت بیا فعال او د استفادي وړ وگرځید، او د اوبو رسولو سیستم فعال شویدي ډیرو ساحو ته اوبه رسیدلي دي او پاتي برخوته به هم په همدي ورگمر کي ورسیږي . مریشنا ټول وسایل مو برابر کړیدي ځه چه دلته نه مونږل کیدل له خارج نه مو وارد کړل جنراتورونه مو فعال کړیدي انشاء الله چي په همدي لنډو ورځو کي به ښار روښانه شي . د تیلفون په هکله باید ووایم چي په دي اړه له ستونزو سره مخ وو خو د مخابراتو د وزارت هغه هیئت چي څه موده د مخه زابل ته راغلي و د مخابراتو دستگاه بي سمون ته فعاله کړه او اوس تیلفوني سیستم فعال دي .

پوښتنه : د کرهڼي په هکله مو څه اقدام کړیدي ؟

ځواب : ځه د کروندگرو خپل هست دي او ځه موږ موسسي تشویق کړي دي چي په خلکو دواگاني ، سري او تخمونه ویشي په زابل کي زراعتي سیستم بالکل فوق العاده روان دي . اوس موسسي یوهي او نیالگي هم ویشي زمونږ سره بي وعده کړیده چي د کابل، قندهار د بین المللي سرك په د واړو خواوو به له ښار نه تر دوه کیلو مترو پوري نیالگي کښینوي . د زراعت ریاست مو فعال دي او ټول وسایل بي پوره دي .

زراعتي موسسو د صنایع خفیفه په هکله هم زمونږ سره ډیري مرستي کړیدي او نوري وعدي بي هم راکړي دي چي په هغوي کي د قالین او بدلو فابریکه هم ده چي ان شاء الله شروع به شي . د اطلاعاتو او کلتور د ریاست په هکله د یوي پوښتني په ځواب کي مولوي اسد الله حقاني وویل : د اطلاعاتو او کلتور ریاست مو فعال کړیدي خو وسایط او امکانات نه لرو. کتابخانه نشته ، اخبار، مجله نشته ، مطبعه نشته، د راډیو یوه دستگاه لرو چي متاسفانه پوري بي کمبود دي او ترمیم ته اړه لري. موږ له مشرانو نه په دي اړه توجه غواړو چي موږ ته امکانات برابر کړي تر څو خپروني ولرو او خلك د اسلامي دولت او اسلامي تحریك له افکارو نه خبر کړو .

د عامې روغتیا سرپرست وزیر محترم الحاج ملا محمد عباس اخند له ...

پوښتنه : د دواگانو مشکل لري او که نه ؟

ځواب : د W.H.O خیریه موسسي په مرستي مو ډیري دواگاني تهیه کړیدي همدا اوس د کابل په ښار کي ۲۲ روغتونونه فعال دي لا براتوارونه او نور ټول ضروري وسایل لري .

پوښتنه : د ښځینه ناروغانو علاج لپاره مو څه اقدام کړیدي ؟

جواب : د عامي روغتیا وزارت تصمیم نیولي دي چي د ښځینه ناروغانو لپاره ځانگړي روغتونونه جوړ کړي او ښځینه ډاکتراني په کي استخدام کړي او اوس هم په مختلفو روغتونونو لکه ۲٥۰ بستر ، ملالي روغتون، نساني او ولادي او صحت طفل کي د ښځینه ناروغانو علاج د پاك لمنو ډاکترو خویندو لخوا کیږي .

پوښتنه : د ایمرجنسي یا عاجلو پیښو ناروغانو ته څه چمتو والي لري او که نه ؟

ځواب : هوکي فعلاً مو دایمرجنسي ناروغانو لپاره په مختلفو روغتونونوکي ۱۰۰ بستره خالي پریښي دي دا ځو ورځي دمخه تاسو ولیدل چي د کمونست دوستم د الوتکو د بمبارد او په ښارکي د یو ماین د چاودیدلو په نتیجه کي ۸۰ بي گناه او مظلوم ښاریان ټپیان شول چي دعامي روغتیا وزارت بي په پوره معني خدمت وکړ او خپل ټول وسایل بي په کار واچول او د ټپیانو سره بي هر ډول مرستي وکړي او په راتلونکي کي په نظر کي لرو چي د ایمرجنسي یا عاجلو پیښو لپاره د (عاجل ابن سینا) په نوم ځانگړي روغتون جوړ او خلاص کړو .

د عامي روغتیا وزارت د بهرنیو چارو د وزارت له لاري ددي کمپنیو مسؤلینو سره تماس نیولي دي چي دلته راشي او نوي قرار داد لاسلیك کړو .

په افغانستان کي د هوخست سهامي لوي شرکتحانگي چي مرکز یې په جرمني کي دي هم خپل کار پیل کړیدي چي تر اوسه یې ٤۰ قلمه دوا تولید کړیده ، ددي شرکت مرکزي مسولین چمتو دي چي له موږ سره نوي قرار داد لاسلیك کړي .

د افغانستان د اسلامي دولت د عامي روغتیا د وزارت فارمسي فابریکه به هم په همدي ورځوکي خپل کار پیل کړي . او ددي لپاره چي جعلي دواگاني بندي شي . فعلاً په ټول افغانستان کي د نوي درملتونونو د پرانستلو کار معطل شویدي.

همدا راز د هوخست کمپني هم په کابل او جلال اباد کي خپل کارونه پیل کړیدي چي اصلي او جعلي دواگاني بیلي کړي .

پوښتنه : په ولایتو کي مو د روغتیایي ستونزو د حل لپاره څه اقدام کړیدي ؟

جواب : د عامي روغتیا وزارت تصمیم نیولي چي په هر ولایت کي یو ٥۰ بستریز روغتون او په هره ولسوالي کي یو اساسي کلنیك جوړ کړي پدي هکله مو له خیریه موسسو سره خبري کړیدي او ان شاء الله ژر به عملي کار پیل شي. همدا راز په ډیرو ولایاتو کي همدا اوس لوي لوي روغتونونه چي په پوره وسایلو مجهز دي د هیواد والو خدمت کوي . موږ هم د چارو د لا سمون او پر مختگ لپاره له دوي سره هر راز مرسته کړي او په اینده کي به هم خپلي مرستي ترې ونه سپموو .

مذاکرات

تحریك اسلامي طالبان که غرض اقامه صلح ، سلم و تأمین امنیت سرتاسري و در نتیجه اقامه حکومت واحد شرعي در کشور به پا خاسته و جهت بر آورده شدن این مأمول مقدس و ملي تفاهم و روش مسالمت و مصالحه را از ترجیحات اولي و اصولي خود قرار داده .و تنها در صورت مایوسي کامل از نتیجه مذاکرات و تفاهم دست به سلاح زده و موانع را از راه خویش دور گردانیده .

تحریك براي اینکه جلوگیري از خون ریزي بیشتر و تخریب تأسیسات و نهاد هاي اقتصادي ، علمي و فرهنگي کشور شده باشد حتي با ملیشه هاي شمال دوستمي هم از مذاکرات مضائقه و دریغ نداشت اما متاسفانه در گذشته ها توقعات و خواسته هاي طرف شمال به هیچ صورت توافق با ایجابات شرعي و منافع ملي نداشت لذا مذاکرات کدام نتیجه محسوس از خود بجا نگذاشت .

این بار که مذاکرات میان ملیشه هاي شمال و تحریك اسلامي تحت نظارت ملل متحد آغاز گردیده امید است که پایان موفقیت آمیز شرعي و اصولي بي داشته باشد و به اهداف مقصود برسد .

«با خیر» بودن صلح و مصالحه که جنبه شرعي و بشري دارد طرفین تعداد از زندانیاني در اختیار دارند که تعین سرنوشت و رهایي اوشان یك ضرورت انساني و بشري بوده که هیچگاه از نظر انداخته شده نمي تواند که همین امر ضروري و بشري تحریك را با پیروزي هاي قاطع که در میدان نبرد علیه مخالفین داشت تشویق نمود که در مورد تعیین سرنوشت اسیران علاقه گرفته قدم جدئي بگذارد .

خواسته هاي مخالفین دولت اسلامي در این مذاکرات که هر چه باشد حیثیت شرعي و دیني داشته باشد و یا نداشته باشد ، مبین خواست و احساسات دیني و ملي مردم مسلمان و مجاهد ما و انقلاب اسلامي باشد و یا نباشد ، از اصالت ملي و وطني برخوردار باشد و یا مظهر اراده هاي شوم اجنبي ها گردیده از بیرون الهام گرفته باشد و یا نباشد در این مورد ما فعلاً گفتني نداریم حقایق و رویداد ها همه بر مردم ما آفتابي و روشن بوده «عیان را چه حاجت به بیان» .

البته در این مورد آنچه به ارتباط تحریك گفته میتوانیم چیزي نو و جدیدي نبوده بلکه از بدو امر و آغاز ، این تحریك عظیم اسلامي و رهایي بخش اهداف و آرزو هاي دیني و ملي خود را بي پرده اعلان داشته و در راه پیاده کردن و عملي شدن آن هزار ها تن از مخلص ترین فرزندان جامعه روحانیت را از دست داد که یادشان گرامي و رحمت بي پایان خداوندي رفیق حال شان باد . تحریك توانست در این محرکه حق با باطل اعتماد کم نظیر ملت مجاهد افغان را بدست بیاورد که کسب همین اعتماد و باور ملت و نصرت الهي «ج» تحریك را توفیق بخشید که بیشتر از سه حصه ئي کشور را از لوث شر و فساد تصفیه نموده نظام الهي را با داشتن زعامت و رهبري شرعي و ملي در آن حاکم و نافذ گرداند . «الحمدلله» .

دیگر تحریك با طي کردن موفقانه و کامیابانه این مراحل دشوار و صعب مبارزه و انقلاب به هیچ صورت در نظر ندارد که در ضوابط و روابط جهاد و مبارزه خود تجدید نظر نموده به خواسته هاي غیر شرعي و غیر ملي مخالفین که درد ملت ما را دوا کرده نمي تواند تن در دهد و به بي راهه برود اما آنچه به خواست شرعي ، ملي و معقول مخالفین ارتباط میگیرد و نمایندگي از اراده و خواست دیني و ملي مردم ما مینماید تحریك و دولت اسلامي به آن مخلصانه لبیك گفته در راه عملي کردن آن هیچ نوع هرهره و تشویش را در خود راه نمیدهد «والله ولي التوفیق» .

محترم عالیقدر امیر المؤمنین چند تن ...

همچنین عالیقدر امیر المؤمنین محترم مولوي نورالدین ترابي سرپرست وزارت عدلیه را به حضور پذیرفت . محترم مولوي ترابي گزارش مفصل سفر خود را به ولایات نیمروز ، هرات و فراه و خواسته هاي مردم در آن ولایات را به حضور امیر المؤمنین تقدیم کرد وامیر المؤمنین براي شان از بارگاه ایزد متعال توفیق مزید براي خدمت به اسلام و هموطنان خواست .

طبق یك گزارش دیگر جناب عالیقدر امیر المؤمنین هیأت بلند رتبه قضایي دولت اسلامي افغانستان را غرض ملاقات به حضور پذیرفتند .

درین ملاقات هیأت قضایي کشور تحت ریاست محترم مولوي خلیل الله فیروز رئیس تمیز گزارش کار و فعالیت محاکم قضایي کشور را به جناب عالیقدر امیر المؤمنین تقدیم داشته که مورد تائید جناب عالیقدر امیر المؤمنین قرار گرفته و پیرامون آن هدایات لازم ارائه گردیدند .

هیأت مذکور چندي قبل غرض بررسي امور قضایي محاکم به ولایت ارزگان سفر نموده بود .

خبر مي افزاید عالیقدر امیر المؤمنین محترم قوماندان خان محمد را نیز غرض ملاقات بحضور پیرفتند در مورد مسایل جاري کشور رهنمود هاي لازم دادند .

معذرت لیك

د شریعت اوونیزې د دوهم نشراتي کال په لومړي گڼه کي د (شریعت اوونیزي یو کلن نشراتي بهیر د پوهانو په نظر کي) تر سر لیك لاندي د نورو لیکونو تر څنگ د افغانستان د علومو د اکادمي رئیس محترم محمد حسین (مستمعد) نظر هم چاپ شویدي او نوم بي سهواً پاتي شویدي هیله ده چي درانه لوستونکي او (مستعد) به زمونږ معذرت ومني .

اداره

دو تعرض ناکام ...

استقامت سر حدات فاریاب و بادغیس به نصرت الهي و مقاومت مجاهدین اردوي اسلامي در همان ساعات اول توسط خادمان و سپاهیان اسلامي دفع گردیده و دشمن شکست خورده، علاوه از تلفات جاني خسارات مالي هنگفتي را نیز متقبل گردیده است .

درین تعرض ناکام از ملیشه هاي دوستم و عناصر شر و فساد مقدار زیادي از سلاح و مهمات مختلف النوع بجا مانده که الحمد لله ، مجاهدین اردوي اسلامي با مورال عالي رزمي تعقیب ملیشه هاي فراري میباشند .

یادونه

ښایي ستاسو ایمان به اجازه ورنکړي چي دا ډول سپیڅلي پاڼي په ناوړو ځایونو کښي وغورځوي.

(اداره)

د گډون بیه شپږ میاشتني کالني

پاکستان	Rs.200	Rs.400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

SHARIAT WEEKLY

Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mulavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul - Afghanistan,
Tel # : 21381 - 62859